

# څرنګه باید اودس اوکړم؟

د اودس کولو بشپړ طریقه او په اړه یې یو څو د سوچ او فکر خبرې اترې

# څرنګه باید اودس اوکړم؟

د اودس کولوبشپړ طریقه او په اړه یې یو څو د سوچ او فکر خبرې اترې

مرکز أصول
OsoulCenter

ⓒ **جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالربوة ، ١٤٤٦ هـ**

**مركز أصول**

كيف أتوضأ : شرح مصور لكيفية الوضوء مع وقفات مع هذه الشعيرة العظيمة باللغة البشتو. / مركز أصول - ط ١. .- الرياض ، ١٤٤٦ هـ

٤٨ ص ؛ ١٤.٨ x ٢١ سم

**رقم الإيداع: ١٤٤٦/١٩١٥٥**

**ردمك: ١-٩٦-٨٤٣٨-٦٠٣-٩٧٨**

مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com

- د مرکز لخوا ددې اصدار تصميم تر تيب کړی شوی دی
- دا مرکز ددې اصدار چاپول يا خپره ول چې په هره مسيله سره وي اجازت ورکوي په دې شرط چې هيڅ ډول بدلون به په کې نه کوي او خپل اصلي مصدر ته به په کې اشاره کوي
- د چاپولو په صورت کې بايد د کره والی معيار په نظر کې ونيول شي کوم چې د مرکز لخوا د اعتبار وړ دی

بسم الله الرحمن الرحيم

د الله پاک په نوم چې عام او خاص مهربانه دی پیل کوم



# سریزه

ټول په ټوله ثنا او صفتونه یواځې الله پاک لره دي، درود او سلام دې وي زمونږ په خوږ نبي محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه په خاندان او ملګرو باندې، له حمد وثنا څخه بعد:

د اسلام مقدس دین د پاکوالي او طهارت دین دی او  د هر ډول پاکوالي لار ښوونه کوي بدن او جامې باید د خیرو نه پاکې وي، زړه او نفس باید د هر ډول ګناه بد اخلاقي او بدنیتۍ څخه پاک وي.

په ډیرو ځایونو کې الله پاک مسلمان ته د پاکوالي لار ښوونه کوي، یو له هغه ځایونو څخه د لمانځه لپاره پاکوالی او اودس کول دي، لمونځ د اسلام دین لپاره د ستنې حیثیت لري، دبنده او د هغه د پروردګار تر مینځ ډیره پیاوړې اړیکه او تړاو دی، د لمانځه د عظمت په خاطر الله پاک د لمانځه د پیل څخه مخکې یو شمیر نور پاکیزه کارونه مشروع ګرځولې دي، د بیلګې په توګه د لمانځه څخه مخکې اذان کول، ښاپسته او پاکې جامې په تن کول، همدغه شان د لمانځه څخه مخکې په اوداسه یا تیمم سره پاکوالی تر لاسه کول.



د الله پـاک وینـا ده: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِۚ وَإِن كُنتُمۡ جُنُبٗا فَٱطَّهَّرُواْۚ وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا﴾ [سورة المائدة: الآية ٦].

ژباړه: ای مومنانو! کله چې لمانځه ته پاڅئ نو مخونه مو پرېمینځئ او لاسونه مو تر څنګلو او په سرونو مو مسح وکړئ او پښې موتر ښینګرو (ګیټو) (و وینځئ) او که جنب وئ نو ځان ښه پاك کړئ، او که ناروغان وئ، یا په سفر، یا کوم یو د میتیازو ځای نه راغلئ یا مو ښځو ته لاس وروړی وي او اوبه بیانه‌مومئ نو د پاکې خاورې تیمم وکړئ او په مخونو او لاسونو یې وموښئ، الله نه غواړي چې پر تاسو څه تنګون راولي خو دا غواړي چې سوتره مو کړي او خپل نعمت دربانـدې تمام کړي چې شکر وباسئ. [سورة المائدة: الآية ٦].

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم وینا ده: الله تعالی ستاسو څخه د هیچا لمونځ نه قبلوي کله چې بې اودسه شي تر دې چې - بیرته - اودس وکړي. رواه البخاري ومسلم.

د اودس کولو ډیر فضایل راغلي دي: اودس کول د ایمان نیمایې برخه ده، الله پاک د اودس په وجه ګناهونه ښي، په اودس سره د بنده مرتبه او درجه لوړیږي، اودس د جنت لاره ده، د قیامت په ورځ د مسلمان لپاره رڼا ده، د شیطان وسوسې له مینځ وړي، د اودس رڼا دقیامت په ورځ ددی امت نښه ده د اوداسه اندامونه به یې پرقیږي او رڼا به کوي.

د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې: نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلې دي: کله چې یو مسلمان مؤمن اودس کوي او مخ وینځي نو د ابو سره یا د ابو د اخرني ځاځکي سره یې د سترګو ګناهونه وبښل شي، بیا چې کله لاسونه ووینځي نو د ابو سره یا د ابو د اخرني ځاځکي سره یې د لاسونو ګناهونه وبښل شي، بیا چې کله پښې ووینځي نو د ابو سره یا د ابو د اخرني ځاځکي سره یې د پښو ګناهونه وبښل شي، تر دې چې د ګنانو څخه صاف ستره شي. رواه مسلم.

د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي: زما امت به د قیامت په ورځ بانـدې راځي مخ لاسونه او پښې به د اودس له وجې روښانه او پرقیږي. رواه البخاري ومسلم.



# مضامین

| موضوع | | د پاڼې شمیره |
| --- | --- | --- |


| | | |
| --- | --- | --- |
| 1 | د اسلام په مقدس دین کې پاکوالی | 11 |
| 2 | د لمونځ لپاره اړین پاکوالی | 13 |
| 3 | د ښځو ځانګړي احکام او مسائل | 17 |
| 4 | د قضا حاجت آداب | 19 |
| 5 | څرنګه باید اودس اوکړم؟ | 23 |
| 6 | د جنابت څخه باید څرنګه غسل اوکړو؟ | 34 |
| 7 | په طاهرت او پاکوالي کې ځانګړي حالتونه | 35 |
| 8 | پوښتنې او ځوابونه | 40 |



# د اسلام په مقدس دین کې پاکوالی

د اسلام مبارک دین کې د پاکوالي او طهارت ډیر لوړ مقام او مرتبه ده، یواځې ښکاره پاکوالی نه بلکه هر ډول ښکاره ظاهري او پټ باطني معنوي هر ډول پاکوالي ته د اسلام مقدس دین دعوت ورکوي.

او هر چې معنوي طهارت او پاکوالی دی هغه دادی چې یو بنده خپل زړه او عقیده د الله پاک سره د شرک کولو څخه پاکه کړي، همدغه شان خپل ځان د بدو اخلاقو څخه وساتي لکه حسد کینه، او بد ګماني، بخل خیانت وغیره ددي ټولو بدو خویونو څخه باید هر یو مسلمان خپل ځان لري وساتي.

او هر چې حسي او ښکاره طهارت او پاکوالی دی نو هغه داچې یو بنده د ښکاره نجاست او پلیتۍ څخه ځان پاک کړي، همدغه شان هغه صفت او حالت د ځان نه لري کړي په کوم سره چې دا بنده د عبادت کولو څخه بند شوی وي، د شریعت په اصطلاح کې ورته نا پاکي وایي، دا ناپاکي خو یا په اودس، غسل او یا تیمم کولو سره له مینځه ځي.





# په لمانځه کې اړين او لازم پاکوالی

لمونځ ادا کول د بنده او د هغه د پروردګار تر مينځ خبرې اترې کول دي، پکار ده چې د خپل پروردګار په وړاندې پاکيزه او په عاجزۍ سره ودرېږي، په همدې خاطر الله پاک په هر مسلمان باندې دا خبره لازم کړې ده چې کله د لمانځه اراده وکړي بايد د هر ډول پليتۍ او بې اودسۍ څخه ځان، جامې او د لمانځه ځاې پاک وساتي.



هغه کارونه چې يو لمونځ کونکی باید ترینه ځان پاک وساتي:

**لمونځ کونکی بايد د هر ډول لوې او وړوکي بې اوداسۍ څخه ځان پاک کړي بيان يې دادی:**

**د ناپاکۍ معنا:** ناپاکي يو معنوي صفت دی کوم چې په بدن پورې پيوسته کيږي او د لمونځ ادا کولو څخه مانع ګرځي او دوه ډوله لري:

1. **وړوکي بې اودسي:** دا د يو انسان بدن سره پيرسته کيږي کله چې د انسان د بدن نه لوې يا وړي متيازي يا هوا خارج شي همدغه شان يا په خوب ويده شي دا بې اودسې بيا په اودس کولوسره له مينځه ځي.

2. **لوې بې اودسي:** ديته جنابت هم ويل کيږي دا د انسان بدن سره پيوسته کيږي کله چې د خپلې ښځې سره کور والی اوکړي او يا په بله طريقه د خپلې مني انزال اوکړي، او دا بې اودسې بيا په غسل کولو سره له مينځه ځي.

**هر چې ښکاره ناپاکي ده:** لکه تشې متيازي يا ډکې متيازي يا بهيدونکې وينه شوه وغيره ددې پاکې راځي په ابو باندې وينځلو سره تر دې چې اثر يې ختم شي.

د بیلګـې پـه توګـه د متیـازو وتلـو تـه بـې اودسـې ویـل کیـږي او خپلـه دغـه متیـازو تـه ناپاکـي ویـل کیـږي.

او پـه هـر لمونـځ کونکـي بانـدې لازم دي چـې د هـر ډول بې اودسـې او نـا پـاکۍ څخـه ځان پـاک کړي.

- **کـه چیرتـه لمونـځ کونکـي تـه وړه بـې اودسـې رسـیدلې وه نـو یواځـې اودس بـه کـوي.**
- **او که چیرته ورته لوې بې اودسې رسیدلې وه نو غسل به کوي.**

پـه لمونـځ کونکـي بانـدې لازم دي چـې د درې ډولـه ناپاکـۍ څخـه ځـان پـاک کـړي:





# د ښځو ځانګړي مسائل:

**ښـځینه د طهـارت او پاکوالـي پـه مسـلو مسـائلو کـې د نارینه پـه څیـر ده،** مګـر پـه ځینـې شـرعي حکمونـو کـې بیـا یـو څـه ځانګړتیـاوي لـري، هغـه دا چـې ښـځینه و بانـدې د حیـض مهـواري بیمـاري راځـي، او بچـي زیـږه وي او پـه دې کـې هـم د الله پـاک ډیـر رازونـه او حکمتونـه دي تـر څـو انسـاني نسـل تـر یـو وخـت پـورې بقـا وکـړي، پـه همـدې خاطـر الله پـاک د ښـځینه و بدنـي جوړښـت تـه پـه کتـو د هغـوې څخـه د حیـض او نفـاس مرضتیـا پـه وخـت لمونـځ سـاقط کـړی دی، حیـض هغـه وینـه ده چـې کومـه چـې د ښـځینه و د بچـې دانیـو څخـه خارجیـږي او نفـاس هغـه وینـه ده کومـه چـې د ښـځینه و د بچـې دانیـو څخـه د ماشـوم لـه پیدائښـت نـه بعـد خارجیـږي، پـه دې داوره حالتونـو کـې پـه ښـځینه و بانـدې لمونـځ کـول نشـته مګـر کلـه چـې د حیـض یـا نفـاس د مرضتیـا څخـه پاکـه شـي نـو لومـړی بـه غسـل وکـړي او بیـا بـه لمونـځ بیرتـه پیـل کـړي

مګـر کـه چیرتـه یـوې ښـځې د سـر ویښـتانو تـه کمځـې ورکـړي وي نـو د غسـل پـه وخـت وربانـدې د هغـه کمځیـو سـپړدل لازم نـه دي کلـه چـې اوبـو ټولـو ویښـتانو او سـر تـه رسـیږي.





# د قضا حاجت آداب

د اسلام دین د مسلمان ټول ژوند ته ښایسته ترتیب ورکړی دی تر څو ښایسته ژوند تیر کړئ او د حیواناتو په څیر بې ترتبه ژوند ونکړي په همدې خاطر د اسلام دین د ژوند هر اړخ ته پاملرنه کړې ده تر دې چې ځنې داسې مسائل یې هم بیان کړې دي چې د انسان ورته خیال نه وي لکه د قضا حاجت مسلې مسائل چې انسان ورته اړتیا لري.

## د قضا حاجت اړوند ځني آداب:

- بیت الخلا (قضاحاجت ځای) ته به لومړي چپه پښه دننه کړي او دا مسنون دعا به ووایي: «**اللهم إني أعوذ بك من الخبُث والخبائث**» ژباړه: ای پروردګاره زه په تاپورې د نارینه او ښځینه شیطانانو څخه پناه غواړم.

- او چې کله د بیت الخلا څخه بیرته راوځي نو خپله ښي پښه به لومړی کړي او دا دعا به ووایي: «**غُفْرانك**». پروردګاره ښښنه راته وکړي.

- د قضا حاجت په وخت به نه قبلې ته مخ کوي او نه به شاه کوي خاصکر چې کله آبادي نه وي.

- د قضا حاجت په وخت به خپل عورت د خلکو د نظر څخه پټ ساتي که ابادي وي او که ښاره وي.

- د خلکو په لارو کوڅو کې به د قضا حاجت کولو څخه ډه ډه کوي. تر څو خلکو ته تکلیف او ضرر ونه رسیږي.

- په ولاړو ابو کې به قضاحاجت نه کوي.

- همدغه شان باید د حیوناتو په جالو کې باید د قضا حاجت کولو څخه ډه ډه وکړي.

- همدغه شان باید د قضا حاجت په وخت باید خپل ځان ته پاملرنه وکړي تر څو ورته د متیازو څاڅکي وغیره ونه رسیږي.

- په استنجا کولو کې باید چپ لاس وکاره وي استنجا په اوبو سره د متیازو ځای پاکول او استجمار بیا په کاڼي لوټه یا کاغذي دسمال سره صفایي کول.

**په اوبو سره یا کاڼو سره یا اوبو او کاڼي دواړه په صفایي کې کاره ول جواز لري.**



د اسلام مقدس دین هر یو مسلمان ته لار ښوونه کوي چې خپل شخصي نظافت او پاکوالي ته باید ښه پاملرنه اوکړي خپل لاسونه باید پاک وساتي او کله چې د استنجا کولو څخه فارغ شي باید لاسونه په اوبو یا نورو پاکونکو شیانو سره ووینځي.



# ځرنګه باید اودس اوکړم؟

د تصویـــر پـــه بڼـــه د اودس کولـــو عملـــي شـــرحه

**هـر يـو مسـلمان بايـد د اودس كولـو څخـه مخكـې دا يـو څـو كارونـه پـه پـام كـې ونيسـي:**

- لـه نيـت كولـو پرتـه اودس نـه صحيـح كيـږي او د د اخـلاص پرتـه نيـت نـه صحيـح كيـږي، د نيـت ځـاې زړه دى نـه ژبـه.
- د اودس اندامونـو وينځلـو كـې تريـب او پرلـه پـه سـې والـى اړيـن او لازم دى، هـر يـو انـدام بـه پـه خپـل وار سـره وينځـي يـو انـدام بـه د بـل انـدام څخـه پـه وينځلـو كـې نـه مخكـې كـوي او نـه بـه يـې روسـتو كـوي.

**ددي باركـوډ بټـن پـه وهلـو سـره د اودس كولـو بشـپړ طريقـه وګـوره.**





١ **نیت** کول د اودس کولو لپاره تر ټولو لومړي نیت کول لازم دي په زړه سره به دانیت وکړي چې په اودس کولو سره بې اودسې لرې کوم تر څو لمونځ کول راته رواه شي، بغیر له نیت کولو اودس نه صحیح کیږي د بیلګې په توګه که یو څوک د اودس اندامونه ووینځي مګر نیت یې د عبادت نه وي کړي نو اودس یې صحیح نه دی.

٢ **د اودس کولو په پیل کې بسم الله** ویل پکار دي د بسم الله ویلو څخه بعد بیا مسواک وهل تر څو خوله ښه پاکه شي.



۳

درې ځل د لاسونو وینځل تر ورغویو پورې د ګوتو په وینځو پیل تر مړوندونو پورې.

۴

خوله او پوزې ته اوبو اچول او بیرته توې کول:

أ- بیا مضمضه کول خوله ته اوبو اچول بیا هغه اوبو په خوله کې تاوه ول راتاوه ول او بیا بیرته ویستل.

ب- پوزې ته اوبو اچول او د هوا په مټ یې لرې پورته راکش کول.





ت- د پوزې اوبو بيرته په چپ لاس او هوا سره بيرته ويستل او سونړ کول.

ث- په مضمه او استنشاق کې مبالغه او ټينګار په کار دی خو په دې شرط چې اودس کونکی روژه نه وي.

ج- د مضمضې او استنشاق دوه طريقې دي:

- يوه طريقه د وصل ده هغه داسې چې په نيمه لپه کې به اوبو راواخلي نمايې به خولې ته واچه وي او نيماې به پوزې ته واچوي او دا کار به دې ځل تکرار کړي.
- دويمه طريقه د فصل ده هغه داسې چې د خولې لپاره به جدا نيمه لپه اوبو راواخلي او د پوزې لپاره به جدا نيمه لپه ابو را واخلي او درې ځل به دا کار تکرار کړي.



٥

**په اودس کې د مخ** وينځلو تر کلي حد د تندي د ويښتانو راشنه کيدلو نه واخله تر لاندې د زني پورې او د يو غوږ نه واخله تر بل غوږ پورې.







مخ ويښتان د وريځو ويښتان او د رنګې ږيرې ويښتان وغيره دا ټول په اودس کې وينځل يې لازم دي.

۶

**د لاسونو وينځل** لومړی به خپل ښي لاس او بيا چپ لاس د ګوتو د سرونو نه واخله تر څنګلو پورې ووينځې.







٧ **د سر مسح کول:** په لوندو لاسونو سره سر مسح کول لازم دي هغه داسې چې لوانده لاسونه به د سر د مخې برخې څخه شاته د څټ په طرف بوځي او بیا به یې بیرته مخې ته راولي، د سر مسح کول په هرچا باندې لازم ده که په سر ویښتان ولري او که نه.







۸

**سر د مسحې** نه چې کومې اوبه پاتې شي نو به همغه لوندو لاسونو به بيا دأوړه غوږونه مسح کړي، طريقه يې داده چې د لاس سوندېږ ګوتې به د غوږونو په سورو کې وردننه کړي او غټې ګوتې به د غوږونو په شا راتيرې کړي نو د غوږونو ظاهر او باطن ټول به مسحه شي.

د سر او غوږونو مسحه يواځې يو ځل ده.









٩

**د پښو وينځل:** لومړی به خپل ښي پښه د ګوتو د سرورنو څخه واخله تر ګټکيو پورې ووينځې او د ګوتو تر مينځ به خلال وکړي او بيا به د ښي پښي په څير خپل چپه پښه ووينځې.







## ۱۰ کله چې د اودس کولو څخه فارغ شي نو دا دعا باید ولولي:

**أَشْـهَدُ أَنْ لا إِلـهَ إِلَّا اللّٰه وَحْـدَهُ لا شَـرِيكَ لَـهُ، وَأشـهدُ أَنَّ مُحَـمَّـدًا عَبْـدُهُ وَرَسُـولُهُ.** ژبـاړه: زه ګواهــي ورکــوم چــې د عبــادت حقــدار یواځــې د الله پــاک ذات دی او محمــد صلــی الله علیــه وســلم د الله پــاک بنــده او پیغمبــر دی.

او ورسره دا دعا هم لوستلی شي:

**اللَّهُـمَّ اجْعَلْنـي مِـنَ التَوَّابيـنَ، واجْعَلْنـي مِـنَ المُتَطَهِّريـنَ.** ژبــاړه: ای پــروردګاره لَــه تَوبــه کونَکــو او پاکــي کونکــي پَــه ډولګــي مــي شــامل کــړي.

یا دا دعا:

**سُبْحانَكَ اللَّهُـمَّ وبِحَمْـدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلـهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وأَتُوبُ إِلَيْكَ.** ژبـاړه: پاکـي دَه تـا لـره ای پـروردګاره، زه ګواهَـي ورکـوم چِـې حقــدار د بندګــي یواځــې تــه یــې لــه تــا ببښــنه غــواړم او تاتــه توبــه کــوم.

### پاملرنې:

۱ د ســر مســحه او وســره د غوږونــو مســح يــو ځــل ده او باقــي پانــي نور اندامونــه بيــا درې درې ځــل وينځــل کيږي، دا بشــپړ او کامــل اودس دی، مګــر يــو يــو ځــل وينځــل يــې لازم او واجــب دي.

۲ پــه اودس کولــو کــې ترتيــب اړيــن او لازم دی يــو انــدام بــه د بــل انــدام څخــه پــه وينځلــو کــې نــه مخکــې کيــږي او نــه بــه روســتو کيــږي.

۳ همدغــه شــان د اودس پــه اندامونــو کــې پرلــه پــه ســې والــی اړيــن او لازم دی.

## د جنابت څخه باید څرنګه اودس وکړو؟

**د جنابت څخه د غسل کول دوه طریقې دي یو بشپړ او کامله طریقه او بله طریقه یې یواځې واجب طریقه ده:**

۱ لومړی به په زړه سره د لوی بې اودسۍ لرې کولو نیت او اراده اوکړي.

۲ بیا به خپل ټول بدن ته اوبه ورسوي مضمضه او استنشاق به هم اوکړي نوغسل یې وشو.

**هر چې د غسل بشپړ او کامل طریقه ده هغه داچې واجب او مستحب ټول کارونه په کې سر ته ورسیږي:**

۱ لاسونه تر ورغویو پورې وینځل.

۲ په شرمګاه اوبه اچول او په چپ لاس سره هغه وینځل.

۳ بیا د اودس په څیر بشپړ او کامل اودس کول، مګر کولی شي چې پښې وینځل تر غسل وروستو وو وینځي.

۴ دري ځل د سر وینځل.

۵ مګر که چیرته یوې ښځې د سر ویښتانو ته کمځۍ ورکړي نو د غسل په وخت وربانديې د هغه کمځیو سپړدل لازم نه دي کله چې اوبه ټولو ویښتانو او سر ته رسیږي.

۶ د بدن ښي اړخ پوره وینځل.

۷ بیا د بدن چپ اړخ پوره وینځل.

# د پاکوالي ځانګړې حالتونه:


## تيمم وهل:

د اسلام په آساني کې يوه آساني داده چې د ابو په بدل کې د غسل او اودس په ځاې تيمم وهل جايز ګرځولي دي، هغه داسې چې کله يو مسلمان د ابو په استعمال باندې قادر نه وي د بيلګې په توګه په سفر وي اوبو ورسره نه وي او نه يې په پيسو اخستلی شي يا ابو وي خو په استعمال يې قادر نه وي مريض وي وغيره يا يخنې ډيره زياته وي نو په داسې حالتونو کې تيمم وهل مشروع دی.

## څرنګه بايد تيمم وکړو؟

لومړی بايد په زړه سره د تيمم نيت او اراده وکړي بيا پاکه زمکه يو ځل په لاسونو سره ووهي او په خپل ټول سر مخ او لاسونو کې ورتير کړي.

د تيمم وهلو يوه طريقه ده که د لوې بې اودسې لپاره وي او که د وړوکې بې اودسې لپاره وي، د تيمم وهلو څخه بعد ټول هغه عبادتونه ادا کولی شي د کومو لپاره چې طهارت او پاکي شرط ده، مګر چې کله اوبو پيدا شي او يا يې مونږ په استعمال قادر شو تو نو بيا به تيمم وهل باطل او اودس کول لازم شي.






**په موزو او جرابو باندې مسحه کول:**

کله چې یو مسلمان موزې یا موزو ته ورته نور پیزار په پښو کړی وي نو په هغه واجب نه ده چې هر اودس کولو ته موزې یا پیزار وغیره وباسي او پښې ووینځي بلکه د هغه لپاره شرعي جواز شته چې په موزو وغیره باندې مسحه وکړي، مګر د مسحې لپاره بنیادي شرط دادی چې موزې به یې د طهارت او پاکوالي په حالت کې اچولي وي.

د مقیم کلیوال لپاره د مسحې موده یوه ورځ او یوه شپه ده او د مسافر لپاره درې ورځې او درې شپې دي.



**مقیم کلیوال:**
به یوه ورځ او یوه شپه په پښو باندې مسحه کوي.



**مسافر به :**
درې وځې او درې شپې په پښو باندې مسحه کوي.



**په دسماله یا پټۍ باندې مسحه کول:**

دسماله یا پټۍ هغې ته ویل کیږي چې په زخم باندې د علاج په خاطر لګول کیږي که چیرته دا دسمال یا پټۍ د اودس په کوم یو اندام باندې لګیدلې وي نو مریض کولی شي چې لوند لاس وربانديې راکاږي او ددې لپاره دا هم شرط نه ده چې دا دسماله یا پټۍ به یې د طهارت او پاکوالي په حالت کې لږه ولې وي.

او که چیرته دسماله یا پټۍ داسې وي چې د اندام یوه برخه یې ښکاري او بله یې پټه وي نو هغه برخه چې ښکاره وي هغه به ووینځي او کومه برخه چې پټه وي په هغه به مسح وکړي.

# د بحث خاتمه:

الله پاک د هغه ایت په اخر کې چې د اودس غسل او تیمم په هکله نازل شوی دی داسې ویلې دي: ﴿مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجۡعَلَ عَلَيۡكُم مِّنۡ حَرَجٖ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ﴾ [المائدة:٦]. ژباړه: الله پاک په تاسې باندې په دین کې هیڅ سختي نه ده مقرر کړې بلکه الله پاک غواړي چې تاسې پاک شې او غواړي چې خپل نعمتونه په تاسې پوره کړي تر څو تاسې د الله پاک شکر ادا کړي.

**ددې ایت معنا داده:** الله پاک په تاسې اودس فرض کړی دی کله چې تاسې لمونځ کوي، همدغه شان په تاسې غسل کول فرض دي کله چې تاسې ته جنابت ورسیږي همدغه شان په ځانګړي وختونو کې په تاسې تیمم کول فرض دي دا ټول ددې لپاره چې تاسې ته په دین کې سختي رانه شي ﴿لِيَجۡعَلَ عَلَيۡكُم مِّنۡ حَرَجٖ﴾

او ددې لپاره چې تاسې په اودس کولو یا غسل کول یا تیم کولو سره پاک شې، او بل ددې لپاره چې په تاسې الله پاک خپل نعمتونه پوره کړي. ﴿وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ﴾

الله پاک ښه پوهیږي: وصلى الله وسلم وبارك على عبده ونبيه محمد.



# سؤالونه او ځوابونه:

## ۱ صحیح یا غلط نشان ولګوي:

- [ ] د اسلام په مقدس دین کې یواځې د جامو بدن او ځای پاکول اړین دي.
- [ ] د اودس په وجه د یو بنده د سترګو، لاسونو او پښو ګناهونه بښل کیږي.
- [ ] هغه ښځینه چې د حیض مهواري مرضتیا یې راشي نو روژه نیول ورته معاف دي مګر د لمانځه پرېښودل ورته معاف نه دي.
- [ ] په خوله کې اوبو اچول او بیا تاو راتاو کول او بیرته توکه ول دیته استنشاق وایي.
- [ ] د لاس په نیمایي لپه خوله او پوزې ته په یو ځل اوبه اچول جواز نلري.
- [ ] د مخ په وینځلو کې د تندي وینځل لازم نه دي.
- [ ] په اودس کولو کې یوه ډیره واقع کیدونکې غلطي هغه داده چې اودس کونکی د پښوو وینځلو په وخت د پښو پوندې وچې پریږدي.
- [ ] د غسل کولو واجب طریقه هغه داده چې ټول بدن ته اوبو ورسوي او مضمضه او استنشاق وکړي.
- [ ] د وړې بې اودسې لپاره د تیمم طریقه د لوې بې اودسي لپاره د تیمم طریقې څخه جدا ده.
- [ ] په موزو باندې د مسح کولو لپاره دا خبره شرط ده چې موزې به یې د طهارت او پاکوالي په حالت کې اچولي وي.
- [ ] په دسماله یا پټي باندې مسحه کول د اړتیا په وخت جواز لري.

## ۲ لمانځه لپاره د اودس کولو په وجوب باندې یو دلیل پیش کړه؟

..............................................................................

..............................................................................

٣ که یو مسلمان په هیره سره بې اودسه لمونځ وکړي نو لمونځ يې:

☐ صحیح دی ☐ باطل دی

٤ صحیح ځواب غوره کړه:

۱. هغه حالتونه چې طهارت او پاکوالي ورلره اړين او واجب دی:

☐ روژه نیول ☐ لمونځ کول ☐ د الله پاک ذکر کول

۲. د وړو یا غټو متیازو ځای په کاڼي لوټې یا کاغذي دسمال سره وینځل دیته وايي:

☐ استنجا کول ☐ استجمار ☐ استنثار

٥ د اودس کولو یو درې ګټې ذکرکړه؟

.................................................................................................

.................................................................................................

٦ لاندې عبادت بشپړ کړه:

۱. په هر لمونځ کونکي باندې واجب دي چې د لمانځه څخه مخکې ځان پاک کړي د ............................................. او .............................................

۲. د قضاحاجت له آدابو څخه داده: ............................. او .............................

۳. مونږ به اودس پیل کړو د ............................................. بیا به استعمال کړو ............................................. تر څو خوله ښه پاکه شي.

٤. د مقیم لپاره د مسحې مده په موزو باندې ............................................. او د مسافر لپاره .............................................

# سؤالونه او ځوابونه:

٧ د اسلام مقدس دين د ښکاره ظاهر او باطن صفا کولو لپاره حکم کړی دی د هر یو لپاره یو یو مثال ذکر کړه.

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

٨ ناپاکي څه ته وايي؟

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

٩ په استنشاق او استنثار کې څه توپیر دی؟

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

١٠ د اودس کولو څخه بعد مسنون دعا ذکرکړه؟

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

۱۱ د بشپړ غسل کولو طریقه بیان کړه؟

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

۱۲ د لمانځه وخت راغي او اوبه نشته څه باید وکړو؟

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................

..............................................................................................................................................................................



# اودس کول د لوړ شان او مرتبې واله عبادت دی

هیڅ یو مسلمان باید داخبره هیره نکړي چې اودس کول د لوړ شان او مرتبې واله عبادت دی، د ګناهونو څخه د پاکوالي لوی لامل دی، او د قیامت په ورځ به د اودس له وجې د مسلمانانو مخونه سپین پرقیږي، د هیڅ لمونځ د اودس کولو پرته نه قبلیږي، په همدې خاطر باید هر یو مسلمان د اودس کولو طریقه زده کړي.

په دې کتاب کې مونږ کوشش کړی دی تر څو تاسې ته د اودس کولو بشپړ طریقه پیش کړو همدغه شان تاسې کولی شي چې د دغه بارکوډ بټن په وهلو سره د اودس طریقه وګوری.


1:32 / 7:17
يجوز

مركز أصول
OsoulCenter
www.osoulcenter.com

CHAT & DECIDE

په بيلابيلو ژبو د اسلام په هکله
خبرې اترې وکړه

GUIDE TO ISLAM

د اسلام په هلکه د لا ډیرو
معلوماتو لپاره

Pashto - بشتو

هیڅ یو مسلمان باید داخبره هیره نکړي چې اودس کول د لوړ شان او مرتبې واله عبادت دی، د ګناهونو څخه د پاکوالي لوی لامل دی، او د قیامت په ورځ به د اودس له وجې د مسلمانانو مخونه سپین پرقیږي، د هیچا لمونځ د اودس کولو پرته نه قبلیږي، په همدې خاطر باید هر یو مسلمان د اودس کولو طریقه زده کړي.

په دې کتاب کې مونږ کوشش کړی دی تر څو تاسې ته د اودس کولو بشپړ طریقه پیش کړو همدغه شان تاسې کولی شي چې د دغه بارکوډ بټن په وهلو سره د اودس طریقه وګورئ.


International Organization for Standardization
ISO
9001

osoulcenter
www.osoulcontent.org.sa

په بیلابیلو ژبو کتابونه او داسې نور
راښکته کول
OSOUL STORE
osoulstore.com